مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۵/۱۱/۱۹

# د یهودو عادلانه جګړې

(یوسل او اتمه برخه)

## له اسراییلو د امریکایانو ملاتړ او لویه بیه (۳)

### پہ کویټ کې د امریکا او فرانسې پر سفارتونو او نورو ځایونو همهالې بریدونه

د ۱۹۸۳ز. کال د دسمبر په ۱۲مه نېټه په کویټ کې د ۹۰ دقیقو په دننه کې شپږ چاودنې رامنځ ته شوې، دغو بریدونو په کویټ کې د امریکا او فرانسې پر سفارتونو سربېره، پر امریکایي شرکت (رېتیون)، د کویټ پر هوايي ډګر، د مالګینو اوبو د چاڼ فابریکه او د کویټ د تېلو چاڼځای په نښته کړل.

**د امریکا پر سفارت چاودنه په یوه لارۍ کې چې ۴۵ د ګازو لوی سلنډرونه په کې بار وو او له چاودېدونکو توکو سره ښتلول شوي وو، د کویټ په ښار کې د امریکا د سفارت د ننوتلو دروازه ماته کړه او د سفارت له درېپوړیزې ودانۍ سره یې ټکر او د ودانۍ نیمايي برخه یې ویجاړه کړه، چاودنه دومره زوروره وه چې په لېرې واټن کې د کورونو او هټیو کړکۍ او دروازې یې لړې وغورځولې.** په چاودنه کې یوازې پنځه کسان ووژل شول چې دوه تنه فلسطینیان، دوه کویټیان او یو کس د سوریې وګړی ؤ. د وژل شویو شمېر له دې کبله ډېر نه ؤ چې د لارۍبم چلوونکي ونه شول کولی لارۍبم د صدارت اعظم ودانۍ سره(چې ډېر خلک په کې وو) ټکر کړي، بل مهم عامل دا ؤ چې د چاودیدونکو توکو یوازې ځلورمه برخه وچاودیده، یو امریکایي ډیپلومات، ورځپاڼهلیکونکي (رابین رایت) ته وویل:«که چېرې ټول توکي چاودېدلي وای، دلته به یو [عمومي] پارکینګ[؟] جوړ شوی وای.»[1]

د یوې ګړۍ په موده کې نورې پنځه چاودنې هم ترسره شوې. یوه ګړۍ وروسته د فرانسې سفارت بهر د یو موټربم چاودنه وشوه چې له امله یې د سفارت په امنیتي دېوال کې نهه متره سورۍ رامنځ ته کړ او پنځه تنه یې ټپیان کړل.

دوه چاودنې د امریکایي شرکت (رېتیون) کارکوونکو پر استوګنځۍ ترسره شوې چې دغه شرکت په کویټ کې توغندیز سیستم ځایپرځای کاوه. په رېتیون کې لومړنی بم د دې لپاره وچاودول شو چې اوسېدونکي له ودانۍ څخه بهر راوباسي او دویم بم د هغوی د وژلو لپاره ځایپرځای شوی ؤ، دا هڅه ناکامه شوه، ځکه چې اوسېدونکي له ودانۍ څخه ونه وتل.

یو بل برید چې تمه کېده تر ټولو ځواکمنه چاودنه به وي، د کویټ د تېلو پر چاڼځای او د مالګینو اوبو د چاڼ پر فابریکو ترسره شوه، په یوه لارۍ کې چې ۱۵۰ د ګاز سلنډرونه په کې بار شوي وو او د ۱۵۰ مترو په واټن کې د تېلو دویمي تصفیهخانې ته نږدې چې یوازې څو متره د کیمیاوي توکو سولفا (چې ډېر ژر اور اخلي) وچاودیدله، که چېرې

[1]:Robin Wright, Sacred Rage, 1985, p.112
https://books.google.com.af/books?id=PnSsF-hADhUC&q=sacred+rage&pg=PA112&redir_esc=y#v=snippet&q=sacred%20rage&f=false

چاودنه بریالی شوي وای، نو د تېلو د تولید په برخه کې به د نړی د مهمو صادرونکو د یو هېواد تولید ګډوډ شوی وای او د هېواد د اوبو ډېری سرچینې به له کاره لوېدلې وای.[2]

نور موټربمونه **د کویټ د نړیوال هوایي ډګر** د څارنې برج او د برېښنا د کنټرول مرکز ته نږدې وچاودېدل. د څار برج، د بمچاودنې په پېښه کې یو مصري تخنیکر ووژل شو خو په نورو بمچاودنو کې څوک نه وو وژل شوي.

له چاودنو لږه موده وروسته، اسلامي جهاد ډلې له کویټي چارواکو سره ټلیفوني اړیکه ونیوله او د چاودنو مسؤلیت یې پر غاړه واخیست. دا ادعا هغه مهال جدي وبلل شوه چې د کویټ د مهاجرت اداری مخې ته، د یو بل موټربم په موندلو سره تایید شوه.

د عراق اسلامي الدعوه ګوند هغه مهال د کویټ په چاودنو کې په لاس لرلو ګرم وبلل شو چې کله د یو کس د لاس یوه ګوته وموندل شوه او د ګوتې د نښې له مخې مالومه شوه چې دا د (رعد مرتین اجیل) ګوته ده چې هغه د عراق د اسلامي الدعوه ګوند یو ۲۵ کلن غړی ؤ.

د دغو چاودنو په تور ۲۱ کسان ونیول شول او محاکمه شول. شپږ تنه په اعدام محکوم شول، اووه تنه په عمري بند او اووه تنه د پنځو تر پنځلسو کلونو په بند محکوم شول.[3]

## د مسافروړونکو الوتکو او بهرنیانو تښتول

په کویټ کې د دغه ۱۷ بندیانو د خلاصون لپاره د اړونده سازمانونو لهخوا امریکایان او د امریکا او کویټ څو مسافروړونکي الوتکي په بېلابېلو وختونو کې وتښتول شوې، په لبنان کې یو امریکایی **(فرانک ریجیر)** او یو فرانسوی **(کریستین ژوبر)** د اسلامي الدعوه سازمان لهخوا یرغمل شول، د ۱۹۸۴ز. کال د مارچ په ۲۷مه نېټه چې کله د الدعوه غړي په اعدام محکوم شول، یرغملنیونکو ګواښ وکړ چې که د کویټ حکومت دغه بندیان اعدام کړي نو ورسره یرغمل کسان به ووژني.[4]
یوه میاشت وروسته، یو امریکایی تن **(بنجامین ویر)** د همدغو [الدعوه سازمان] کسانو لهخوا وتښتول شو چې ورته غوښتني یې درلودې. **(تري وېټ)** چې د (انګلیکن کلیسا یا فرقې) د یرغمل شوو کسانو د ازادی د خبرو اترو منځګړیتوب یې کاوه، هڅه یې وکړه چې د هغوی د خوشې کېدلو لاره ومومي خو هغه هم وتښتول شو او تر پنځو کلونو پورې یرغمل ؤ.[5]

د ۱۹۸۴ز. کال د دسمبر په دریېمه نېټه، **د کویټ ایرویز یوه مسافروړونکې الوتکه** چې له کویټ ښار څخه د پاکستان کراچۍ ته روانه وه، د څلورو تنو لبنانیانو لهخوا وتښتول شوه او په تهران کې کېناستو ته اړه شوه. تښتوونکو په کویټ کې د خپلو ۱۷ تنو بندیانو د خوشې کیدو غوښتنه کوله خو دا غوښتنه ونه منل شوه. د دې پېښې پر مهال، ښځې، ماشومان او مسلمان مسافر خوشې کړای شول **خو د امریکا د نړیوالې پرمختیایي اداری (USAID) دوه امریکایي کارکوونکي، (چارلز هېګنا) او (ویلیام سټینفورډ) په ډزو ووژل شول او د الوتکې پر رنوې پرېښودل شول. پاتې څو تنه مسافر، په ځانګړې ډول امریکایان، د ګواښ او شکنجې لاندې ونیول شول.**[6]

د پېښې په شپږمه ورځ، د ایران امنیتي ځواکونو پر الوتکه برید وکړ او پاتې یرغمل یې آزاد کړل. چارواکو وویل چې الوتکهتښتوونکي به محاکمه شي خو هغوی آزاد شول او له هېواده د وتلو اجازه ورکړل شوه.

---

[2]: هماغه، ص ۱۱۳
[3]: *هماغه، ص ۱۲۵*
[4]: رانستورپ، مګنوس،حزبالله *در لبنان: سیاستهای بحران ګروګانګیری غرب*، نیویورک، انتشارات سنت مارتینز، ۱۹۹۷، ص. ۹۲. (د ویکیپیډیا په استناد)
[5]: هماغه، ۹۹.
[6]: سرویس جهانی بیبیسی، ۲۴ دسامبر ۱۹۸۴


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

داسي ښکاري چي الوتکه د ایران په مرسته تښتول شوي وه او د يرغملو د خوشي کولو هڅه يو د ځانښودني (تمثلي) عمل ؤ. «ځينو مسافرو او چاروکو د ایران د همکارۍ او د يرغملو د ژغورني د ډرامې احتمال مطرح کړ. يو کويټي مسافر او دوو پاکستانيانو ادعا وکړه چي الوتکهتښتوونکو ته له ناستي وروسته نوري وسلي او اړين توکي، ولچک او د ټرلو لپاره پړي (رسۍ) چي په چوکيو کي د مسافرو د ټرلو لپاره کاريدلي ورکړل شول.»[7]

## په بيروت کي د امريکا پر سفارت دويم ځل سرتېرى بريد (۱۹۸۴ز. کال د سپتمبر ۲۰مه)

د لبنان په پلازمېنه بيروت کي، د ۱۹۸۳ز. کال په اپرېل کي د امريکا پر سفارت د موټربم بريد سربېره، پر نوموړي سفارت باندي بيا ځلي بريد ترسره شو. د ۱۹۸۳ز. بريد څخه وروسته، امريکايانو د امنيت د خونديتوب په موخه خپل سفارت، له لويديځ بيروت څخه د بيروت ښار ختيځ ته چي د مسيحيانو استوګنځای ؤ او خوندي سيمه بلل کيده ولېږداوه خو په نوموړي سيمه کي هم د امريکا سفارت خوندي پاتي نه شو او **د ۱۹۸۴ز. کال د سپتمبر په ۲۰مه نېټه پر دغه سفارت باندي د لارۍبم يو بل بريد هم ترسره شو، د سپتمبر په ۲۰مه نېټه، يو تن بريدګر خپل وانټ ګاډی چي (۳۰۰۰) پونډه (۱۳۶۰ کيلوګرامه) چاودېدونکي توکي په کي ځای شوي وو، په ډېري چټکی سره د سفارت شېږپوړيزي ودانی ته نږدې وچاوديد،** چاودونه داسي مهال ترسره شوه چي د سفارت د ودانی، بنسټيز امنيتي تدابير (په ځانګړي توګه د سفارت لويه پولادي دروازه لا نه وه بشپړه شوي.) دغه ون ګاډی چي غوښتل يي سفارت ته ننه شي، د انګلستان سفير يو ساتونکي او د سفارت لبنانيو ساتونکو پر موټرچلوونکي ډزې وکړې او هغه له کنټروله ووت، موټرچلوونکي ونه شول کولی د سفارت ودانۍ سره جوخته چاودنه وکړي. موټر چي له کنټروله وتلی ؤ، له يو پارک شوي ون موټر سره ولګېد او وچاوديد. چاودني «د سفارت د ودانۍ مخامخ برخه ورانه کړه، د کړکيو ښيښي ماتي شوي، پولادي ميلي يي کږې او په نږدې پارک کي يي ګاډي له منځه يوړل. په دې بريد کي د بريدکوونکي په ګډون، ټولټال ۲۴ کسان ووژل شول، په وژل شويو کي دوه تنه امريکايان وو... او نور ډېرى وژل شوي کسان په سفارت کي محلي کارکوونکي او يا د ويزو اخيستلو لپاره راغلي کسان وو. له ټپيانو څخه د امريکا سفير (ريجينالډ بارتولوميو) او د انګلستان سفير (ديوېډ ميرس) چي د چاودني پر مهال د امريکا سفير بارتولوميو سره يو ځای ؤ، سرسري ټپيان شول. له دې چاودني څو ساعته وروسته د اسلامي جهاد سازمان (IJO) په يوه ټيليفوني اړيکه کي د بريد مسؤليت په غاړه واخيست، ويې ويل چي **«زموږ دغه عمليات ثابتوي چي موږ به خپلي کړي ژمني ترسره کوو، موږ به يو امريکايي ته هم اجازه ورنه کړو چي د لبنان په خاوره کي پاتي شي.»**[8]

## د امريکا د TWA هوايي شرکت د ۸۴۷ شميره بوينګ الوتکي تښتول:

د ۱۹۸۵ز. کال د جون په ۱۴مه نېټه د امريکا د TWA الوتنو شرکت يوه ۸۴۷ شميره (۷۲۷بوينګ) مسافر وړونکي الوتکه سهار مهال، وروسته له هغي چي الوتکه له پلان سره سم له آتن څخه روم ته والوته، له الوتني لږه شيبه وروسته، د دوو لبناني عربو لهخوا وتښتول شوه، له تښتوونکو سره يوه تپانچه او دوه لاسي بمونه ورسره وو. له دغو دوو تنو څخه يو يې د محمد علي حمادي په نوم وپېژندل شو چي ويل کېږي د حزب‌الله غړی ؤ.[9]

په نوموړي الوتکه کي د الوتکي د عملي په ګډون ۱۵۴ مسافرو سفر کاوه چي ۹۱ کسان امريکايان، ۲۴تنه انګرېزان، ۱۵تنه يونانيان، ۱۱تنه ايتالويان ۹تنه فرانسويان او ۳ تنه استراليايان وو.

---

[7]: *نيويورک تايمز*، ۲۳ دسامبر ۱۹۸۴

[8]: https://www.nytimes.com/1984/09/21/world/23-die-including-2-americans-terrorist-car-bomb-attack-us-embassy-beirut-blast.html?pagewanted=all
[9] :https://www.washingtonpost.com/wp-dyn/content/article/2005/12/20/AR2005122001615.html


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

الوتکيتښتوونکو پیلوټان اړ کړل چي له خپل اصلي مسیر، روم څخه د منځني ختیځ پر لور ولاړه شي او د لبنان د بیروت په نړیوال هوايي ډګر کې ښکته شوه. الوتکه څو ساعته په بیروت کې پاتې شوه چې په دې جریان کې یې ۱۹ تنه مسافر د الوتکې د تېلو د ورکړې په بدل کې خوشې شول.[10]

پرغمل شوي الوتکه له بیروت څخه والوتله او د الجزایر په نړیوال هوايي ډګر کې کیناسته او د لومړیو پنځو ساعتونو د تم کېدو پر مهال، تښتوونکو خپلې غوښتنې په ډاګه کړې: **دوی په کویټ کې د خپلو (۱۷) تنو بندیانو د خوشې کیدو غوښتنه وکړه، هغوی چې په کال ۱۹۸۳ز. کې په کویټ کې د امریکا د سفارت او نورو په چاودنه کې ښکېل وو.**[11]
**د ښتوونکو بله غوښتنه دا وه چې اسراییل دې، هغه (۷۶۶) فلسطینیان او لبنانیان له خپلو زندانونو خوشې کړي چې د اسراییلو په (اتلیت) په زندان کې بندیان دي.**
**د دوی بله غوښتنه دا وه چې سملاسي دې د اسراییلو ځواکونه له جنوبي لبنان څخه ووځي او اسرائیل او امریکا دې د نړیوالو لهخوا وغندل شي.**[12]

تښتوونکو وړاندې له هغې چې له الجزایر څخه د بیروت پر لور الوتنه وکړي، ۲۱ نور مسافر یې هم پرېښودل، الوتکه چې لا هم ۱۱۵ تنه:(۱۰۵تنه مسافر، ۸ تنه د الوتکې عمله او ۲ تنه تښتوونکي) وو، د شپې ۸:۲۵ بجې بیا ځلې د بیروت پر لور والوتله.[13]

هغه مهال لبنان په کورنۍ جګړه کې ښکېل ؤ او بیروت ښار د جګړهمارو ترمنځ په څو سیمو وېشل شوی ؤ. چې هېڅ امنیتي کړۍ (کمربند) یې نه درلود چې د هوايي ډګر رنوې ته ننوتل یو اسان کار ؤ چې همدا کار وشو. کله چې دویم ځل الوتکه د بیروت په هوايي ډګر کې کیناسته، هوايي ډګر د اسلامي وسلهوالو ډلو لخوا ونیول شو.

تښتوونکو ټول نظامي مسافر وهلي وو، **دې موده کې هغوی د امریکا د سمندري ځواک لامبووهونکی (رابرټ ستتم) د وژلو لپاره په ګوته کړ، لومړی یې هغه وډباوه، بیا یې د سر پر ښې خوا ډزې پرې وکړې او ویې واژه، جسد یې د هوايي ډګر پر رنوې وغورځاوه او بیا ځلې یې ډزې پرې وکړې.**[14]

**په دې ترڅ کې، هغه اووه امریکایي مسافر چې ویل کېږي نومونه یې یهودانو ته ورته وو، له الوتکې ښکته کړل او هغوی یې په بیروت کې یو زندان ته ولیږدول،** دا په داسې حال کې وو چې ۱۲تنه نور وسلهوال د تښتوونکو ملګري الوتکې ته پورته شول.[15]

الوتکه سهار مهال بیا له بیروت څخه د الجزایر پر لور والوځول شوه چې ۱۱۹ کسان په کې وو: (۹۷ تنه مسافر، ۸تنه د اوتکې عمله، او ۱۴تنه وسلهوال.)

په الجزایر کې نومورې الوتکه ۲۵ ساعته پاتې شوه چې په دې موده کې وسلهوالو دري تنه یرغمل خوشې کړل، له دې وروسته، د الجزایر چارواکو له تښتوونکو سره د خبرو کولو په موخه الوتکې ته پورته شول. په پایله کې د یونان

---

10 :https://www.nytimes.com/1985/06/15/world/gunmen-seize-jet-in-mideast-flight-passenger-killed.html
11: https://www.pbs.org/wgbh/pages/frontline/shows/target/etc/cron.html
12: رانستورپ، مگنوس،*حزب‌الله در لبنان: سیاست‌های بحران گروگان‌گیری غرب*، نیویورک، انتشارات سنت مارتینز، ۱۹۹۷، ص. ۹۵. (د ویکیپیډیا په استناد)
13 : https://www.washingtonpost.com/archive/politics/1985/06/16/chronology-of-hijacking-of-flight-847/d1f01b11-ba49-456e-bad2-b7baa51df2bf /
14: https://en-wikipedia-org.translate.goog/wiki/Ronald_Reagan_Library?_x_tr_sl=en&_x_tr_tl=fa&_x_tr_hl=fa&_x_tr_pto=tc
15: http://www.country-data.com/cgi-bin/query/r-8105.html


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

حکومت لهخوا د تښتوونکو یو ملګری، (علي عطوه) خوشې کړای شو او الجزایر ته په الوتکه کې ورسول شو چې له نورو تښتوونکو او وسلهوالو ملګرو سره یو ځای شو.

د علي عطوه په بدل کې، تښتوونکو ۸ یونانیان خوشې کړل چې پکې د یونان مشهور سندرغاړی (دمیس روسوس) هم ؤ. ورپسې د نورو خبرواترو په بهیر کې، ۵۸ نور یرغمل کسان: (۵۳ مسافر او پنځه تنه د الوتکې ښځینه عمله) په الجزایر کې خوشې کړای شول.[16]

وایي چې د لبنان د چارواکو او د امریکا ولسمشر رونالد ریګن، د بهرنیو چارو د وزارت حقوقي مشاور، (ابراهام سوفایر) په منځګړیتوب برمته کسان خوشې کړای شول چې د یرغملو په بدل کې د اسراییلو لهخوا لبناني بندیان خوشې شول. سوفایر وویل چې دا اقدام د تروریستانو[؟] په غوښتنو پورې اړه نه لري ځکه چې امریکا لا له وړاندې د لبناني بندیانو د نیولو له کبله پر اسراییلو نیوکه کړې وه.[17]
دغه غمیزه وروسته له ۱۷ ورځو ځخه هغه مهال پای ته ورسېده چې د تښتوونکو ځینې غوښتنې ومنل شوې خو په کویټ کې د ۱۷ تنو[18] د بندیانو غوښتنه ونه منل شوه، وسلهوالو د پاتې ټولو یرغملو خوشې کول ومنل.
په څو اونیو کې، اسراییلو له ۷۰۰ زیات بندیان خوشې کړل خو ادعا یې دا وه چې د بندیانو خوشې کېدل د الوتکېتښتوونکو له غوښتنو سره هېڅ تړاو نه لري.[19]

## د جرمني د لوېدیځ برلین په ډیسکوټیک کې پر امریکایي پوځیانو چاودنه:

د ۱۹۸۶ز. کال د اپرېل په ۵مه نېټه، هغه مهال چې لویدیځ او ختیځ جرمني لا یو ځای شوي نه وو، په لوېدیځ برلین کې په (لا بل) نومي ډیسکوټیک کې یوه بمي چاودنه وشوه، دغه ډیسکوټیک ته د سړې جګړې پر مهال په جرمني کې مېشتو امریکایي عسکرو تګراتګ کاوه، بم چې د پلاستیکي چاودېدونکو توکو او [فلزي] ټوټو ځخه ډک ؤ، **دوه امریکایي عسکر او یوه المانۍ ښځه یې ووژل او ۲۲۹ تنه یې ټپیان کړل چې ځینو یې د بدن غړي له لاسه ورکړل او د تل لپاره معیوب پاتې شول.** د امریکا ولسمشر رونالډ ریګن د هغو مخابراتي پیغامونو پر بنسټ چې د لوېدیځ برلین ځخه د لیبیا سفارت او طرابلس ترمنځ تبادله شوي وو، د لیبیا هېواد سملاسي تورن کړ.[20] خو د لوېدیځ جرمني، هغه ټیم چې د بمي چاودنې څېړنه یې کوله، د لیبیا هېواد د لاس لرلو په تړاؤ یې کوم ثبوت پیدا نه کړ او په ټوله اروپا کې نورو استخباراتي

---

[16] :https://www.washingtonpost.com/archive/politics/1985/06/16/chronology-of-hijacking-of-flight-847/d1f01b11-ba49-456e-bad2-b7baa51df2bf/

[17]: *اوبردورفر، دن (۱۰ مارس ۱۹۸۶). «آبراهام سوفر: مشاور حقوقی ایالت بازیکنان ابتدا با سیاست سروکار دارد، سپس با قانون .«واشنگتن پست . صفحهA13 (د ویکیپیډیا په استناد)*

[18]: په کویټ کې د ۱۷ تنو بندیانو د خوشې کولو په موخه، د ۱۹۸۸ز. کال د اپرېل په ۵مه نېټه، د کویټ ایرویز ۴۲۲م پرواز ۷۴۷ بوینګ الوتکه وتښتول شوه، سره له دې چې په نوموړي الوتکه کې امریکایي مسافرو شتون نه درلود خو د کویټ د شاهي کورنۍ درې تنه غړي په کې وو، د الوتکې د عملې په ګډون، ۱۱۱ مسافرو سفر کاوه، الوتکه له بانکاک ځخه د کویټ پر لور خوځیدلې وه چې د شپږو یا اووه تنو لبنانیاني وسلهوالو لهخوا، د الوتکې پیلوټان اړ کړای شول د ایران په مشهد کې ناسته وکړي، په تښتوونکو کې حسن عزالدین چې پخوا یې د امریکایي شرکت TWA 847 الوتکه تښتولې وه هم ګډون درلود. دا پېښه ۱۶ ورځې اوږده شوه چې په پای کې الوتکه الجزایر ته ولاړه او دوه تنه کویټي مسافر، د وسلهوالو تښتوونکو لهخوا ووژل شول. کویټ د هغو ۱۷ بندیانو له خوشې کولو انکار وکړ خو تښتوونکو ته اجازه ورکړل شوه چې له الجزایر ځخه ووځي. په پای کې (کویټي ۱۷) په نوم بندیان خوشې شول. وایي چې دا هغه مهال ؤ چې عراق پر کویټ برید وکړ او هغوی له نورو بندیانو سره یو ځای وتښتیدل.

[19]:https://www.photius.com/countries/lebanon/national_security/lebanon_national_security_the_hostage_crisis.html

[20]:https://www.britannica.com/event/West-Berlin-discotheque-bombing-1986


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ادارو هم د لیبیا د ښکېلتیا په اړه شواهد ونه موندل. په غبرګون کې د بمې چاودنې په نهمه ورځ، ریګن د لیبیا پر پلازمېنه طرابلس او بن‌غازي ښارونه بمبار کړل.[21]

**په دې برید کې د لیبیا لږترلږه ۳۰ تنه سرتېري او ۱۵تنه ملکي وګړي ووژل شول. د رېګن په دې هوايي بمبار کې د لیبیا د ولسمشر معمرالقذافي استوګنځای هم وویشتل شو چې د ولسمشر قذافي یوه کوچنۍ لور (حِنا) هم ووژل شوه.[22]**

نېټه:۱۴۰۴/۸/۲۸ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلي محمد انور اخګر نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ.

[21]:https://www.politico.com/story/2019/04/15/reagan-bomb-libya-april-15-1986-1272788

[22]:https://www.welt.de/politik/ausland/article13530021/Gaddafis-Kinder-Totgesagte-leben-laenger.html



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ